دنيا د خوند اخيستلو څيز دی، او د دنيا تر ټولو غوره شی چې خوند ورځخه اخيستل کيږي؛ نېک صالحه مېرمن ده

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «دنيا د خوند اخيستلو څيز دی، او د دنيا تر ټولو غوره شی چې خوند ورځخه اخيستل کيږي؛ نېک صالحه مېرمن ده».
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې دنيا او څه چې په دنيا کې دي هغه څه دي چې د يو څه وخت لپاره تر خوند اخيستل کيږي بيا له منځه ځي او دا چې تر ټولو غوره متاع يې صالحه مېرمن ده، کله چې ورته وګوري خوشحاليږي، او کله چې ورته امر وکړي اطاعت يې کوي، او کله چې تر لرې وي نو په خپل ځان او د هغه په مال کې تر ساتنه کوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5794